# د پښتو لیکلو بشپړ او مشترک سبک

د کابل مجلې وښاغلو ویونکـو تـه ددې پـلا غـواړم د پښتـو ژبـې د ژوندانه او ادبي تکامل یو نوی ور پرانیزم، زما مقصد دادی چـې ژبـې د تکامل ضروري ابحـاث ورو –ورو مـنځ تـه راوړم، او د خپلـو پښتنـو ورونو توجه دغو خواوته راوګرزوم، پر ټولو حیاتي خبرو مخصوصاً بیـا پر ادبي او اجتماعي اصلاحاتو بحث او تدقیق او ډیره څېړنه ښه ده، او هر څوني چې یوه موضوع وپلټله سي، او وسپړله سي، هغوني هم ګټـه لري، او تیاره ګوټونه ئې روښېږي.

پوهان وايي :چې تر بحث او څېړني دمخه هـر حیـاتي موضـوع پټ او ورک او ناسپېځلې وي، خـو د څېـړني صـیقل ئـې روښـوي، او حقیقي رنګ ئې خلکو ته څرګندوي.

زما دا عقیده ده چې دپښتو ژبې پر ادبي چـارو بایـد ډېـره څېړنـه وسي، او هر هر پټ ګوټ ئې روڼ سي، او هسي وپلټـل سـي، چـې د هغو اصلي او حقیقي رنګونه وبرېښي.

تر لوړ عنوان لاندي غواړم : چي د پښتو د نثر د لیکلـو دب شـپړ او مشترک سبک په بابت لږ څه وږغیږم او خپل فکر ولیکم، دمخه یـوه د پښتو پوه لیکونکي زما څخه پوښتنه کړي وه او په دغه موضوع ئـې زمـا رایه غوښتې وه زه غواړم چي دپښتو ژبي نور فضلاء او لیکونکي هـم پـه دغه څېړنه راسره ملګرۍ کړم، چي هر یو خپله رایه ولیکي، د صحافت ځانګه چي د پښتو ټولني د داسي علمي او ادبـي ابحـاثو سـاتوونکې او خپروونکې ده په ډېره خوښۍ به د خپلو پښتنو څېړونکو رایي په خپـل واړ نشر کړي.

له ټولو فضلاؤ څخه غواړم چي د خپلو قېمتـي افکـارو پـه رالېږلو پښتو ټولنه ممنونه کړي.

***پوښتنه :***

آیا پښتو د نثر لیکلو بشپړ او مشترک سبک لري؟ که ئې لري، نو آیـا دغه سبک ښه او کافي او د ادبي ښېګڼو وړ دی، که یا ؟

آیا د بک تکمیل ممکن دی؟ او اوسني پښتانه د پښتو د ثر د تکمیـل دپاره باید څه چاري وکړي؟

دا یوه سلسله سوالونه چي د پښتو د نثر لیکلـو د بحـث پـه تـرڅ لـه پوهانو او لیکوالو څخه کیږي. او جوابونه ئې هـم زمـا پـه عقیـده ډیـر ګران او دشوار دي، ډیر غور او دقت غواړي. ګران ئـې لـه دې جهتـه ګنم چي دمخه پرداسي خبـرو فکـر نـه دی سـوي، اوچـا څـه نـه دي پرلیکلي، ښایي چي ددغو پوښتنو په ځواب به هـر څـوک ځانتـه فکـر راي، عقیده لري، او د خطا او ثواب احتمال ئې هم ډیر سته مګـر هـر سړي دي خپل فکر او رایه ولیکي ښایي چي له دې څېړني څخه یـوه

مشترکه نظریـه ووزي، او د (بـرق الحقیقـه تلمـع مـن تصـادم الافکـار) مصداق څرګند سي، زه به دغه فکر، خپله رایه دلته ښاغلو پښتنو تـه وړاندي کوم. هیله لرم چي سهوه او خطا به راوبخښئ، تر هر څه ذمخه دا وایم چي د ژبي د روزني په لومړۍ دوره تر هغـو چـي لیـک ئـې پخیږي او ښه تعمیم مومي د لیکلو د سبک تشتت او ډول ډول والـی یو طبیعي او مطرد کار دی.

په هر ژبه چي سړي څه لیکي که داسي وي چي د هغې ژبي نثـر نضج نه وي میندلی او د ژبي د ادبي ارتقاء عوامل پر یوه مشترکه نقطه نه وي سره راټول سوي نو لیکونکی ته خو هم د ښه او بد او خواږه او ترخه د ترجیح لار نه وي ښکاره یـو اجتمـاعي او عمـومي ذوق نـه وي چي هغه مستقیماً پر لیک او کښلـو اغېـزه وکـا نـو خـود هـر څـوک هرڅه په هر ډول چي وغواړي لیکي ئـي، او پـه دې لیـک خـواږه او ترخه دواړه ګډ وي، او هیڅوک دښه سبک غوره کولـو تـه توجـه نـه کړي.

مګر چي ژبه د خپلي پالني تر لومړۍ دورې ووتـه او ادبـي نهضـت لومړنی پوړونه ئې پرې کړه، هلته نو یو مشتر او ښکلـی د لیـک سـبک مومي.

د قدرت د تکامل قانون پر ټولو کائناتو په ټینګه حاکم دی، او ددې جهان ذره ذره تر دغه قانون لاندي د تکامل دورې طی کـوي، انسـان لومړی وړوکي وي بیا زلمی سي بیا ځلمی سي، بیـا پـوخ سـړی سـي، څو سپین ږیری سي، ونه تنکۍ سي، ځوانه سي، زړه سـي، دا مراتـب پر ټولو مخلوقاتو راتلونکي دي، د څښتن تعالي کامل قدرت دا قـانون د کائناتو دپاره وضع کړي دي. ژبي هم ددې عمومي قانون تـر اثـر لاندي زیږي، لوئیږئ، د ژوندانه لوړو مراتبو ته رسیږي ادبـي رشـد او

ارتقاء مومي د ژوندیو او لوړو ژبو په پوړ درېږي د لیک دپاره ورو ورو اصلاح او خورا ښه سبک مومي چي د زمانې د احتیاجاتو سره سم وي، او د خلقو ټولي د مدني تعامل اړتیاوي ترسره کوي. د مثال په ډول ښایي د ژبو د ادب تاریخ ته وگورو چي پر هره ژبه په مختلفو دورو او زمانو د تکامل لاسیره سره سم څه تحولات او اوښتني راغلي دي؟ او څنگه څنگه د لیک سبکونه ئې میندلي دي؟

دمخه مي وویل : چي هره زمانه ځانله ژبي لري، یعني په هره دوره د ژبي تر اساسي قواعدو لاندي د تعبیر نوي طرزونه د مقصد د اداء نوي رنگونه د لیکلو نوي ډولونه پیدا کیږي، او دا ټول د محیط او انسانانو د هغو طبیعي اړتیاؤ سره سم وي چي دوي ئې په هره دوره اوهره زمانه ببلي ببلي لري.

مثلاً : پارسي ژبه که څه هم د ځانه سره فطري نیمگړتیا لري مگر اوس چي گورو د لیک دپاره نسبتاً یو متحد او مشترک سبک هم لري، چي ټول لیکونکي که څه هم ډیر سره لیري وي نسبتاً په یوه ډول لیک کوي، او که څه تفاوت وي هغه هم اساسي او څرگند نه دي، د سبک د اړولو عامل نه گڼل کیږي، آیا دغه اوسنی د لیک ډول چا او څنگه پارسي ژبي ته پیدا کړ؟

ددې پوښتني ځواب تاریخ راکوي پارسي ژبه خو د آل سامان اوصفاریانو او وروسته د غزنویانو په زمانو، د مدني تعامل ډگر ته راووته، او خلکو څه په دې ژبه ولیکل.

د آل سامان د زمانې پارسي هغه ده چي یو معروف کتاب ئې پاته دی او هغه دتاریخ طبري ترجمه ده، چي د آل سامان مشهور او فاضل وزیر ابوعلي محمد بلعمي له قلمه د امیر منصور بن نوح په امر په (۳۵۲) هجري کال په شاوخوا راوتلې ده. پنځوس کاله وروسته وینو

چې په هغه ژبه د غزنويانو په دوره کښې نور کتب هم ليکل سويدي چې مشهور ليکونکی او اديب ئې هم ابوالفضل بيهقي دی چې د آل سبکتگين تاريخ ئې کښلی دی، دغسې هم د ابن سينا او البيروني منثور آثار پاته دي وروسته د غوريانو دپاچهی د زماني کښې خورا معروف کتب سته چې آداب الحرب والشجاعه د مبارکشاه فخر مدبر، او لباب الباب د عوفي او طبقات ناصري د معروف مؤرخ منهاج السراج الجوزجاني له هغه څخه دي.

ددغو کتابو تر منځ فقط (۳۰۰) کال زمانه ده مگر د بلعمي سبک له بيهقي څخه بېل دی، او د بيهقي او فخر مدبر دليک ترمنځ هم ښکاره توپير مومو، وروسته خو منهاج السراج خپل طبقات په داسې نوي سبک وکښل چې هغه د بلعمي او بيهقي سره نسبت نه لري، دا مثالونه مې ددې دپاره وکښل چې ښاغلي ويونکي په درې سوه کاله د پارسي ژبي محير العقول تحول ته څير سي او دا ورته جوته سي چې ژبه په دوه درې قرنه خوني تغير کوي او څنگه نوي نوي سبکونه مومو؟

د سامانيانو د دورې سبک او د غزنوي دورې د بيهقي سبک چې څه توپير سره لري او بيا چې د بيهقي د ليک د او فخر مدبر او منهاج السراج د ليک تر منځ کوم توپير او امتياز ليده کيږي دا ټول سبکونه کوم علمي انجمن نه وه را ايستلي او نه يو سړي د يوه سبک مخترع او موجد گڼل کيږي.

په خرگند او ښو واضحو عباراتو وايم چې د ژبي د ليک کوم سبک جوړول يو ارادي او د يوه سړي مخترع کار نه دی، او د ژبو د تاريخ له مطالعې څخه دا ښکاره کيږي چې هره ژبه د فطري اصولو او قوانينو په لمن روزنه مومي، يوسبک مري بل زيږي د فطرت د

قانون غښتلی لاس لکه نور ټول شیان ژبي هم سره اړوي او تر خپل حکم ئې لاندي کوي که دپښتو د ادب تاریخ ته لږ څه ځیر سو هم دغه خبره ښه راته ښکاره کیږي چي د هري زماني د محیط او اجتماعي اوضاعو او ټولو عوایدو سره سم پښتو هم تغیر موندلی دی مثلاً : د سلیمان ماکو نثر په (۶۱۲ هـ) یو راز دی او د خیرالبیان د خاوند او اخوند درویزه نثر د ( ۱۰۰۰ هـ) په حدودو بل راز دی بیا چي یو قرن وروسته خوشحال خان ختک او ده کورنۍ څه لیکلي دی هغه بل سبک داحمدشاه بابا په دوره تر ۱۱۶۰ وروسته چي څه نثر لیدل کیږي طرزاو سبک ئې هم بېل دی دوه قرنه وروسته چي د ۱۳۰۰ هـ څخه کوم نثرونه لرو دا خو کوږې بېل طرز او ډول لري.

او دا په ټینګه ویلای سو چي دغه هر سبک د هغې زماني د اړتیاوو سره سم او د انسانانو اجتماعي او حیاتي احتیاجاتو پیدا کړي ؤ، اوس چي د ژبي د لیکلو د سبک د پیدایښ عوامل لږ څه د تاریخي دلایلو له طرزه راته ښکاره سوه نو به پر دې خبره ورغیږم چي آیا دپښتو ژبي د سبک د توحید دپاره څه باید وکړل سي؟

ددې خبري ځواب هم زماپه فکر دادی : چي د پښتو د نوی سبک روزلو او پیداکولو دپاره هغه طبیعي او فطري قوانین ومنو چي قدرت د ژبو د تدریجي ارتقاء دپاره وضع کړي دي.

یوه ژبه په زور اوجبر نه لوړیږي او په قسري رفتار د اصلاح پر خوانه بیوله کیږي تاریخ ځیني مثبت اصول او قوانین لري چي د هغو اثر او اغېزه تل تر تله پر کائناتو جاري ده، که څوک وغواړي چي ددغو قوانینو مخالف د ژبي د ارتقاء سیر وبلي خواته وګرزوي زما په فکر هغه ژبه له لاسه وزي او له منځه ورکیږي. دا خبره چي باید ژبه د قدرت او فطرت د قوانینو وسیر ته وسپارو، ډېره مجمله ده

لږ څه تشریح ورکوم. که غواړو چې ژبه مو یو ښه د لیک سبک ومومي چې مشترک هم وي او د اوسنی دنیا عصري او مدني اړتیاوي مو هم په پشپړي سي نو باید چې لمړي خپله ژبه د لیک او لوست ډگر ته راوباسو او خلق دې ته اړباسو چې دوي په دې ژبه لیکنه او وینه وکړي، او د ادبي افهام او تفهیم وسیله سي، او د اجتماعي تعامل کار ځني واخیست سي، ښکاره ده په لومړی دوره چې دا کار عام سي، نو به یو ادبي تشتت او د لیکني اختلاف هم ورسره راسي، او ځکه چې یو ټاکلې لار نه وي ښکاره نو هرڅوک هر راز چې وغواړي وبه ئې لیکي، مگر فطرت هر وخت خپل کار کوي، د "بقاي صلح" قانون هر ځاي حاکم دي ورو ورو بد له منځه باسي او ښه ئې پرځاي دروي، غښتلي ژوندي پاتیږي او ناغښتلي له منځه وزي، د تکامل اوتتمیم اثر پر هرشي کیږي، او دغه یو نامرئي عمل دی، چې هر ځاي په ښه ډول د خاوند په قدرت اجراء کیږي.

نو د پښتو لیکلو هر څوني سبکونه او طرزونه چې له ابتداء څخه منځ ته راوزي زمانه پخپله هغه پر خپله تقاضا سموي، ناقص ئې غورځوي صالح ئې روزي.

او هر عصر د خپلي تقاضا سره سم هسي د لیک سبک پیدا کوي، چې تر پخواني اصلح او قوي او د ښېگڼو ډک وي، " دمحیط سره موافقت" هم یو داسي اساسي کار دی چې له هرشي څخه بریښي او دا راته ثابتوي چې هر محیط ځانله اصلح شی مومي، او غیر صالح وژني.

نو زما په فکر که د پښتو ژبي د سبک توحید غواړو، ژر تر ژر باید دغه ژبه د اجتماعي او مدني تعامل میدان ته واچوو، د ادب او لیک او دفتر ژبه ئې کړو وروسته به وگورو چې عصر او زمان څه کوي؟

آیا هسي سبک به پیدا نه سي چي هغوي ددې زمانې دپاره اصلح وي؟

آیا دغه تفرق وادبي تشتت به دوام وکړی؟

یه ! یه ! تاسي پښتو ولیکئ، کتابونه ئې ولیکئ، دفتر ئې جوړ کړئ، د ادب اوعلم منځ ته ئې راولئ، متحد سبک او مشترک طرز پخپله مومي، او لیکونکي پریوه داسي موقف باندي دریږي، چي هغه اصلح او د محیط سره مطابق وي.(۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۲ کال، ۴مه گڼه، ۲ _ ۶ مخونه.